مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۱/۰۷/۲۶

# "بیجان" شاعر څوک دئ؟

نن (۲۵ جولای ۲۰۲۱ع) مي په آریانا افغانستان ویبپاڼه کي د ښاغلي جهاني صاحب یوه لیکنه ولوستله چي د بهایي جان صاحبزاده په باب ئي څه موده پخوا دغي ویبپاڼي ته د خپرېدو له پاره ورلېږلي وه، خو د " نامعلومو خنډونو" له کبله ئي خپرېدل ځنډېدلي وه او د ویبپاڼي مسئول له دي بابته بخښنه هم غوښتي ده.

په دي لیکنه کي ئي د بهایي جان صاحبزاده پر ژوند او شاعرۍ ښې د خوند خبري کړي دي. په دې لیکنه کي بهایي جان صاحبزاده د خپلو معاصرو شاعرانو یادونه په یوه شعر کي داسي کړې ده:

دئ بـېـجـان پـه کـنـدهار کي
مـلـنګ جان په ننګرهار کي

اشـقـري پـه شـوربـازار کي
خسته ناست دئ په مزار کي

بل ځای ئي ویلي دي:

شاعـران پــه عـلاقـه د کـنـدهــار کي
بهایي دئ یا ببجان دئ یا خوږمن دئ

مسـافــر چي بـنـدوي بــهــایـي جـانـه
ارغـنـداو دئ یا بغرا ده یا هیلمند دئ

پر دي دوو شعرونو باندي ښاغلي جهاني د تبصرې په ترڅ کي کښلي دي :" بهایي جان صاحبزاده په کندهار کي د خپلو معاصرو شاعرانو په کتار کي دوه تنه یادوي او د بېجان په نوم یو شاعر خو ئي څو څو ځله یاد کړی دئ خو د افسوس خبره دا ده چي ددي شاعر په باره کي، چي حتماً به ئي ښه شعر لیکه، چنداني او هیڅ معلومات نسته ...."
زما سره د بېجان شاعر په باب ښه پوره معلومات سته چي ددې لیکني له لاري به ئي له تاسي درنو لوستونکو سره شریک کړم.

" بېجان" د کندهار د مقتدرالکلام او مشهور شاعر ملا عبدالمنان اخوند" حیرت" د پارسي شاعرۍ تخلص دئ او په پښتو شعر کي ئي هم ځای ځای راوړی دئ. دده د دیوان خرک ما دوولس کاله پخوا په کندهار کي وموند او ښاغلي مطیع الله روهیال ته مي د هغه د دیوان د پښتو برخي د ټایپ او چاپ ته د برابرولو سپارښتنه وکړه. ده دا کار وکړ او ما ئي د کار وروستی ښه تر نظر تېره کړه، لازمي سموني او حواشي مي ورته ولیکل او یوه مفصله تحقیقي لیکنه مي پر وکښله. دا دیوان تر نن ورځي پوري له بده مرغه له چاپه پاته سوی دئ او امید دئ چي د حالاتو د مساعدت په صورت کي به چاپ سي. ددې له پاره چي لوستونکي ددغه حقدار شاعر په حالاتو ښه ترا خبر سي، هغه لیکنه چي ما په ۲۰۱۰ ع کال کي ددغه دیوان له پاره کښلي وه، کټ مټ دلته رانقلوم:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## د ملاعبدالمنان حیرت دېوان ته یوه کتنه:

د اماني عصرله پیل څخه دکندهارپه فرهنگي حوزه کي یو پیاوړی ادبي تحرک بیا را ژوندی سو او هغه ادبي هنگامه ئې بیا توده کړه چي د څه وخت له پاره کي په دغه حوزه کي لږ څه خاموشه سوې وه . ددې خوځښت په نتیجه کي یو شمېر داسي محلي شاعران د ادب ډگر ته را وړاندي سول چي اشعار ئې هم دکمیت په لحاظ او هم دکیفیت له مخي په دې ارزي چي د پښتوادبیاتو په تاریخ کي ورته یوځانگړی فصل اختصاص سي . ددې شاعرانو ادبي متاع هم د موسیقۍ په بزموکي بازار درلود او هم په ادبي محافلو او مطبوعاتي پاڼو کي . ملا عبدالسلام بابا،رحمت الله بابا،حکیم محمدعیسی،ملا عبدالمنان، عبدالله نورزی، عبدالله محزون،ملا میران اونورددغه وخت په محلي شاعرانو کي د نامه ښتنتان دي. په دوی کي یو شمېر کسانو د دېوانو ترتیبولو هڅه هم کړې ده اوله نېکه مرغه ئې را ته د شعربشپړ دېوانونه پرې ایښي دي . ملاعبدالمنان حیرت ددغي ډلي دشاعرانو د لیکي په سر کي ځای لري . دده شعر سربېره پردې چي یو خاص سوز لري ،دغه راز ئې د نورو همعصرو په تناسب ټولنیز ژوند ته هم په نقادانه نظر کتلي دي . ده موږته دوه مردف دېوانونه په میراث پرې ایښي دي چي په هغوکي پر غزلیاتو او د شعر پر نورو انواعو سربېره د مقامي شاعرۍ یوه درنه زېرمه هم خوندي ده.

زما د معلوماتو له مخي دده پر شعر او ژوند باندي د کندهار د زرغونې انا د لېسې د پښتو ژبي استاد اروابناد سعدالله خان له ادبیاتو پوهنځي څخه د فارغېدو پر وخت خپل مونوگراف د علامه رشاد تر لارښووني لاندي کښلی وو اودده ښه ډېري غزلي ئې راغونډي کړي وې. دغه راز په اوسني لیکوال کي هم دده پر ژوند او شاعري باندي بیان سته چي اروابناد محمدیوسف ویران د اوسني لیکوال د فاضل مولف اروابناد بېنواپه غوښتنه ئې کښلی وو.

ملاعبدالمنان حیرت د کندهار ښار د کابل بازار په ملا گلدادکوڅه کي اوسېدئ . د ملا گلداد اخوند د جامع شمالي اړخ ته یوه نرۍ کوڅه مخ پرختیځ وتلې وه او درې څلور کوره پکښې ول . د ملاعبدالمنان او د هغه د ورور عبدالحنان کورونه په همدغه کوڅه کي واقع ول . دا کوڅه کوڅه بندي ده او شا ته ئې د کابل دروازې جنوبي کلافصیل پروت دئ.

ملا عبدالمنان حیرت غنم رنگه چارشانه سړی وو،توره وسپینه کونډۍ ږیره ئې درلوده . د سپین یا تور پاچ بگړۍ ئې تړله . سهار وختي به له کوره دوکان ته،چي تر کابل دروازې د باندي د بالاکرز کوڅې څنگ ته واقع وو، ووت او د شپې به ناوخته بیرته کورته راتلئ. زه چي به کله له ښوونځي څخه کور ته راتلم،زیاتره به مي د ملامنان اخوند دوکان ته نظر اړاوه. دی به هرکله په دوکان کي یوازي ناست وو،تل به چورت وړی وو او کله کله به ئې له ځانه سره شعر زمزمه کاوه . اروابناد محمد افضل خان لودین به مي هم کله کله دده پردوکان ناست لیدئ. دوی دوه له زلمیتوب څخه نزدې ملگري او د یوې کوڅې اوسېدونکي ول . د ملا گلدادکوڅې یو بل اوسېدونکی حاجي گل محمد هم ددوی له ملگرو څخه وو. ددوی د ظرافتوکیسې د کندهارخلکوډیري په خوندکولې.

ما څو کاله وړاندي گران روهیال ته د ملاعبدالمنان اخونددېوان څرک په لاس ورکړ او ورڅخه ومي غوښتل چي ددغه دېوان د موندلوپه لټه کي سي . روهیال ډېر زیارکښ زلمی دئ اوخورا ژر ئې دغه دېوان وموند. لومړۍ برخه ئې ټایپ کړه او ماته ئې راولېږله . مائې ناسم ځایونه ورسم کړل او فکر کوم چي نور به نو چاپ ته تیار وي. دده په دېوان کي مي یو لړ مطالب وموندل چي ددې لیکني له لاري ئې ستاسي سره شریکوم.

ملا عبدالمنان اخوند د میرزاعبدالرحمن زوی او د ملانصرالله اخوند لمسی دئ .په اوسني لیکوال کي په ختِه کاکړبلل سوی دئ (وگ : نوی چاپ ـ ۳۲۶مخ) خو دی پخپل دېوان کي ځان د"فلاني زي" او"غلجي و دراني" له چوکاټه وتلی گڼي او وایي چي په مذهب او نسب دواړو"حنفي" دئ او د غزني اولیاءالله ئې "عزیزان" دي . دی ځان د حضرت سنایي صاحب په ټبر پوري تړلی تاجیک بولي . دده خپله وینا داسي ده:

نوی ذات فلانی زی نه یم پخوانی یم
د یــوسـف وبـنـیـامـیـن راپــاتـنـی یم

زما مـذهـب ونـسب دواړه حنفي دي
زه پـه ختـِه نـه غـلـجی نه درانی یم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د غزني اولياءالله مي عزيـزان دي
د حـکـيـم سنـايـي د کورمـريی يم

عـجم نسل د يـوسف نــبـي دورونو
په يـوه سر تـريـوسف ورته نری يم

د ابا نـوم مي ميـرزاعبدالرحمن دئ
د صاحب ملانصرالله اخوندلمسی يم

که تاجيک ئې ځـزن وره عبدالمنانه
کـنـه نـه يم د يـوسف نسله پردی يم

په کندهارکي پښتانه تاجيک نور هم سته . مشهور نعت سراء شاعر حاجي غلام فاروق بوټ ساز له همدې پښتنو تاجيکوڅخه دئ . خو ملا عبدالمنان اخوندد پراخ نظرڅښتن شاعردئ . دی ديوه منورشاعرپه توګه په نسب باندي فخر"جنون" بولي او انسانان له يوه پلاره پيدا ګڼي. دی وايي:

فـخر وغاړه پـه نسب خوشي د خپل وخـت صرفيده دي
لــه يــوه پـــلاره پـيـدا دي انـســانــان، پـرېـږده جنون

خـيــال و مــال و نسب پـرېـږده، شرف عـلم وادب دئ
په غوږ واوره، په زړه نقش کړه دا زما باريک مضمون

په اوسني ليکوال کي ئې دزيږيدونيته ۱۲۸۰ ش بنوول سوی ده چي دا سنه دده له خپلي ويناسره ديوه کال توپيرلري . ده دخپل ديوان په سرکي يوه اوږده منظومه لري چي په دې بيت پيل کيږي:

عــجــب ژونـــد سو د دنيا
که واخوښ دي دئ، وام يا

د دې منظومي په يوه برخه کي ئې ځان ځلوېښت کلن بللی او د منظومي د ويلو کال ئې ۱۳۶۲هق بنوولی دئ .

ديـرلس سوه دوشپـيـته سوه
چـــي سـنــه دا هـــويـدا

زماځلوېښت کاله پوره سوه
لـــه ســـاعـتـــه د پـيـدا

د۱۳۶۲هق کال لومړی ورځ د۱۳۲۱ش کال دمرغومي (جدي) له ۲۹مي سره برابره ده اوله دغه کال څخه چي ځلوېښت کم سي ۱۲۸۱ پاتيږي.

د ملا عبدالمنان وروستی تخلص "حيرت" وو. خوده پخپل ديوان کي خپل تخلص ځوځايه "محزون" او"بيجان" ليکلی دئ:

په شاعري کي مي ملاستايي شاعرنه يمه
زه ځان ددېرعمره محزون عبدالمنان بولم

يا:

جانانه زه عبدالمنان محزون زبون يم په غم
مه کوه جبروستم

پرسينه زما کتاب له غمه دهجران سو رقم
راسه يوواړغنچه فم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د شکري لبو په ياد دي خدای پاري گرځمه
رنگ په ياري گرځمه

او يا:

ستا پــه يــاد چي وايـم تـرانـه عـبـدالـمنان يمه
زمـا څه مـحبت دئ (چي) داستاله خوانه گران يمه

يـاره کـه تـه نـه ئي زه لـه کـمـي خواگويان يمه
څـه وه زما محزون او د موزون شيرين گفتارسره

د"بيجان" تخلص ئي د ځينو غزلو په  مقطع کي داسي راغلی دئ:

چي د تـقـدير سره تدبير بيجانه نه رسيږي
خودتروجودمي داشنای غمگی اول پيداسو

يا:

د خوبانو مـخ آئـيـنـه د حـقـيـقت وه
مابيجان که پرسينه ورته لاس ونيو

يا:

پر جلوه ئي ليري بال وهه بيجانه
د بــورا په رنـگ کوه باندي بوني

د ديوان دا لومړی برخه ئي په ۱۳۲۲ش کال دجوزاپر۲۹مه تکميل کړې ده . تردغه وخته لا دده په شعرکي د"حيرت" تخلص نسته.

ملاعبدالمنان اخوند بې له دې چي د خپل پير نوم واخلي،ځان د نقشبنديه طريقي پيروبولي:

وبـيـالـه الـحـمـدالله ديـن مـحـمـدي لري
بنه رو و مذهب هـم د نـعـمـان حنفي لري

بل بـيـا مبارک سنگين نسبت نقشبندي لري
ولي ځان پـه شـغل د دنـيـا مدام بندي لري

سوځه دهواوزردعشق پراورپتنگ که ځان
راسه دالله پـه ذکر سرترپايه رنگ که ځان

دی شاعري شريف کاربولي:

نسته توان چي قلم قلف په قلمدان کي ورته کښيږدم
چي بلبل سوم نودگل درخسارذکرڅنگه پريږدم
پيش مشرب دبيدردیحال ولاړله ماڅخه جداسو

د انسان دم په غلط وي شاعري هم شريف کاردئ
ترجمان عبدالمنان کاتب دخپل سِر واسراردئ
زه بياداسي رنگ مجنون يم چي وجودراته ليلاسو

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دی د خپل وخت په شاعرانوکي عبدالسلام بابا "عالي شاعر" بولي او یو شعر ئي هم ورته اختصاص کړی دئ او وايي چي ده د عشق له جامه خپله برخه وړی ده.

خپل تقسیم وړونکی دعشق له جامه
ادیــب عــالـي شاعــرعبدالسلامه

پــس ســلام ولــه احــتــرامــه
تــه مــه تــنــگـیـږه زماله کلامه

---

زه شـاعــر نــه یم داخپل حال وایم
غم جـگرخـون یم پـه ویـنـو پایم

نه شهرت مرادزما،نه کمال ستایم
نـــه مي امـید ستــه د گُم انعامه

ملا عبدالمنان اخوند د نورو حساسو شاعرانو په شان د کندهار له ناوړو تولنیزو حالاتو څخه تل شاکي دئ اوخپل دغه شکایت ئي پټ کړی هم نه دئ:

سینه مي توله خون سوه چابک ورسه رویباره
احـوال و خـبـر راوړه تـرخـو بـه یـم بیماره

پــه ښـار کي کــورنی کــړم تـوبــه له کندهاره
عشق نــه بــولي زما دا بیگانه عالم پرخه دئ؟

دی په یوه شعر کي چي "پربړده پربړده دا وطن" نومیږي،له خپل "مسکن" څخه دېرناراضه ښکاري .تردي اندازي چي وايي "قبروکفن" لا هم نه پکښي غواړم . زه به ددغه شعرپه راوړلوسره خپل بیان پر همدي ځای پای ته ورسوم او د ملاعبدالمنان اخوند د شعر ژبنی خوا به که د خدای رضاوه په بله لیکنه کي وڅېړم.

اور سو (اور) زما مسکن، پکښي سخت مي سو زیستن
خاین ښه پکښي چلېږي،سیاسي یادرواغجن
پربړده پربړده دا وطن

بي د ځان صفت ونوم، بل ئي شی نه دئ معلوم
په مجلس کي چي دی کښېني ددنیاعاشق ژاولن
پربړده پربړده دا وطن

یا ظاهرپرشریعت،کړي عالم ته نصیحت
تر پرده لاندي نه دربغ دچاپرمال کړي نه پرتن
پربړده پربړده دا وطن

یا ئي فخرناروا،یائي کاررشوت وغلا
یا یوبل سره ښکنځي، د رذیل نه وي زده بل فن
پربړده پربړده دا وطن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

مبذر یاعیاشي وي (۱)، یا راشي یا مرتشي وي
یا ظالم وي ترمظلوم دمخه دی کړي نالیدن
پرېږده پرېږده دا وطن

نه ئې ښه انسانیت وي، نه ئې عقل نه همت وي
ټوله عمر ئې وي کار د ښو سړو عیب ګفتن
پرېږده پرېږده دا وطن

نې تمیز نه ئې حیا وي، نې بل خوښ ترځان بالا وي
پر دنیا باندې دین پرېږدي، د نفس دوست د خدای دښمن
پرېږده پرېږده دا وطن

فقیران دي کې پیران دي،عاشقان ټول دغیران دي
د خپل ځان د ښې له پاره جهان ورکې په سوختن
پرېږده پرېږده دا وطن

څه کارونه یاسبحانه، پردي ملک سوه نمایانه
بیا سرببره پردی غواړي مراعت زاغ و زغن
پرېږده پرېږده دا وطن

مدیني لره به درومم، ګوندي وي چې جانان مومم
خدای دي نه کړي کندهار کې دا زما قبر و کفن
پرېږده پرېږده داوطن

(پای)

---

(۱) دغه دوې کلمې ماله "ګلزارسیداحمد" نومي مجموعې څخه واخیستلې . په اصل دېوان کي د دې پرځای ډېري سختي او غلیظي کلمې راغلي دي چي مائې رانقلول مناسب ونه ګڼل (م . هوتک)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ